


# انګلیش څنګه زده کړو ؟

Download from:aghalibrary

لیکوال: احمدضیاء (هادی)

# بسم الله الرحمن الرحيم

Download from:aghalibrary

# د کتاب پېژندنه

نوم: انګلیش څنګه زده کړو؟

لیکوال: احمدضیاء /هادی/

ژبه: پښتو

کال: ۱۳۹۹

بیه: ...

کمپوز او ډیزاین: احمدضیاء (هادی)

اړیکي شمیره: ۰۷۷۶۱۰۷۹۹۴

نشرکوونکي: **خوست-کتابتون**

**کتابتون/T.me ketabton**

## څواک کتابتون

د کتابونو غلا حرامه ده،لطفاً کتابونه په خپل نوم مه ثبت کوی!!!



# ډالۍ

ټولو هغه افغان وګړو ته چې په نه ستړي کیدونکو هڅو سره غواړي ګران هیواد افغانستان ته له هر اړخ څخه مرسته وکړي.

په درناوي

احمدضیاء /هادی/

Download from:aghalibrary

# شامل موضوعات

**۱ : ګرامر څنګه زده کړو....۵ لارې--- لومړی برخه**

**۲ : خبرې څنګه وکړو.......۳ لارې--- دويمه برخه**

**۳ : لغات څنګه حفظ کړو....۲ لارې--- دريمه برخه**

**۴ : د انګليش ۳ مهم ګرامري کتابونه.... د کتاب پای**

Ahmadzia Hadi

خوست-کتابتون

کتابتون

څواک کتابتون

د هر رقم مشکل او غلطی لپاره زمونږ سره په دې آدرسونو اړيکه ونيسی.... مننه له مرستې مو

Download from:aghalibrary

# لومړی برخه

## ( ګرامر څنګه زده کړو)

د هرې ژبې ساختمان او بنیادي ټکی ګرامر دی.

نو د هرې ژبې د زده کړې لپاره د ګرامر زده کول ډیره مهمه او اړینه خبره ده، چې په دغه کتاب کې یې زه تاسو ته ۵ لارې در زده کوم چې ګرامر څنګه زده کړو، نو له تاسو څخه هیله لرم چې هره لاره په ډیر غور او دقت سره ولولی تر څو د ګرامر په زده کولو کې مشکل ونه لری.

**لومړی لار:** کله چې مونږ ګرامر لولو نو ډیر وخت د سټرېیا احساس کوو او د زده کولو شوق یې هیڅ نه لرو، پوهیږی علت یې څه دی؟

علت یې دا دی چې:

۱: کوم کتابونه چې مونږ لولو او یا که کومه چپټره وي، نو په هغې کې ډیر اوږده تعریفات وي چې انسان یې په لیدو سره خوند نه ورکوي چې دا تعریف ولولي، خو ولې تعریف آیا تعریف مهم دی چې باید هرومرو همغه رقم حفظ شي چې کتاب او یا چپټره کې دی؟

نه، دا مهمه خبره نه ده چې باید همغه تعریف بلکل حفظ شي بلکه مهمه دا ده چې مونږ د ګرامر څخه مفهوم واخلو او د یو ګرامر لپاره ډیر تعریفونه موجود وي نه یوازې همغه تعریف چې تاسو ته په کتاب یا چپټر کې درکول شوی دی، نو تاسو باید په دې صورت کې نوي او تازه کتابونه یا چپټرې پیدا کړی چې دیر خلص تعریف پکې لیکل شوی وي.





۲: ستاسو ښوونکی او هغه صنف چې تاسو پکې انګلیسي زده کوی.

تر ټولو مهم ټکی ستاسو ښوونکی دی چې تاسو ته په کوم شکل او معیار سره لکچر درکوي، آیا ستاسو ښوونکی تاسو ته د ګرامر میخانیکي تعریفات ډیر درکوي او که ښکلي،عامه او آسانه تشریح.

چې تر تولو ښه لاره یې عامه او مفهومي تشریح ده، چې په دغه تشریح کې د ګرامر تعریف ډیر خلص وي او مثالونه پکې زیات چې زده کوونکی ښه مطلب ترې اخلي او ګرامر په مثالونو سره ښه زده کولی شي.

خلاصه: دویم مهم ټکی د ښوونکي د تدریس طریقه ده.







۳: ستاسو درسي چاپیریال.

دریم مهم ټکی دا دی چې: تاسو په کوم رقم چاپیریال کې انګلیسي زده کوی.

مثلا: که تاسو د انګلیسی ګرامر او یا کوم کتاب په داسې ځای کې مطالعه کوی چې دا ټکي پکې شامل وي نو تاسو به هیڅکله ګرامر په ښه ډول سره زده نه کړی:

۱: دوکان،دواخانه،مارکیټ او داسې نور کاري ځایونه.

۲: د بیروبار څخه ډک ځای لکه: د کور هغه برخه چې ماشومان او د کور وګړي پکې ډیر تګ او راتګ کوي.

۳: ډیره یخه او ډیره ګرمه کوټه


۴: غیر منظمه او ناپاکه کوټه او یا کوم ځای.

۵: د بیروبار څخه ډک پارکونه.

۶: داسې ځای چې طبیعی او یا مصنوعي رڼا یې کمه وي.

۷: بدبویه او چټل ځای.

۸: داسې کوټه چې د کورنۍ د غړیو آوازونه پکې ځي او راځي.



**دویمه لار:** ګرامر څنګه خپله حافظه کې ثبت او ګټه ترې واخلم؟


دا هغه پوښتنه ده چې ډیر زده کوونکي ورسره مخامخ کیږي، خو د حل لاره یې څه ده؟

په لاندو ۳ ټکو کې یې لولو:

۱: که غواړی چې ګرامر مو حافظه کې ښه ثبت شي نو له لنډو تعریفونه څخه ګټه واخلی او حفظ یې کړی.

۲: د خبرو اترو په ترڅ کې کوشش وکړی ډیر له هغه ګرامر څخه ګټه واخلی چې په نږدې وخت کې مو لوستلی تر څو درته څو ځلې تکرار شي.

۳: د خبرو اترو په ترڅ کې له خپل ښوونکي څخه غوښتنه وکړی چې کومې غلطیانې چې تاسو یې کوی د تختې په مخ ولیکي او په پای کې یې بیا تاسو ته دروښیي او تاسو یې له ځان سره نوټ کړی چې په راتلونکي کې مو مشکلات حل شي.



**دريمه لار:** د ګرامر مفهوم هيڅ نه شم اخيستلی!

ګرانه زده کوونکيه يوازې ته نه بلکه ډير نور داسې کسان دغه رقم مشکل سره مخامخ دي چې د ګرامر مفهوم هيڅ نه شي اخيستلی او آن تر دې چې هيڅ احساس نه کوي چې آيا زه ګرامر لولم که کومه عادي ليکنه نو د حل لاره يې څه ده؟

په لاندو ټکو کې يې لولو:

۱: کوشش وکړی کله چې ټولګي ته ځی او د ګرامر درس لولی نو له ځان سره کوچنی د يادداښت ورقې ولرې تر څو هغه مهم ټکي چې استاد يې تاسو ته بيانوي ځان سره په لنډه توګه نوټ کړی.



۲: کله چې ګرامر لولی نو کوشش وکړی د يوې موضوع لپاره لکه : فعل،فاعل، زمانې او داسې نورو برخو لپاره له هر څومره درسي مواد او کتابونه يا چپټرې چې لری مثالونه وباسی.

۳: که چيرې تاسې انټرنټ ته لاسرسی لری نو کوشش وکړی هغه انټرنټ چې تاسو يې په سندرو،ګيمونو او داسې نورو بې ځايه شيانو مصرف کوی د معياری ګرامر او درسي مواد په ډانلوډ يې مصرف کړی.





۴: اوسنۍ زمانه کې به ډیر کم خلک پیدا شي چې زیرک موبایلونه نه لري، نو که تاسو دغه موبایلونه لری کوشش وکړی د انګلیسی ګرامر لپاره غوره اپلیکشنونه، ویډیوګاني، پي ډې اف کتابونه او داسې نور مواد ډانلوډ کړی، دا ځکه چې اوس انلاین درسي مواد په ډیر ښه کیفیت سره پیدا کیدی شي.



۵: کله چې ټولګي ته ځی نو دا هڅه هم وکړی چې د موبایل « ریکارډر» چالان کړی او د ټولګي تر پایه د استاد خبرې ثبت کړی چې بیا یې څو.څو ځلې تکرار او مرور کړی.

۶: که چیرې تاسو ته د لنډ نوت نیولو وخت په لاس نه درځي نو خپلو کتابو یا چپترو کې هغه مهم او کلیدي ټکي په ښکه کړی.



**څلورمه لار**: ګرامر څنګه له پوره جزییاتو سره زده کړو؟

درنو لوستونکو دې پوښتنې حل په لاندې ۲ ټکو کې درکولی کیږي:

۱: کله چې غواړی ګرامر په پوره جزییاتو زده کړی نو کوشش وکړی چې کوم ګرامر تاسو لولی څو ځله د ځان سره ولیکی.

لکه: په کتابچه کې، په ورقو کې، نوټ پډ کې او داسې نورو قرطاسیوي موادو کې.

۲: که غواړی چې ګرامر ښه په جزییاتو زده کړی نو د یو درس لپاره کوشش وکړی چې له ۳۰ ډیر مثالونه له ځان سره ولیکی، ځکه چې همدا لیکل ګرامر ستاسو حافظه کې پیچکاري کوي.







**پنځمه لار:** د ګرامر تحت لفظی معنا کومه ده او د مفهوم سره څه فرق لري؟

مونږ چې کله کومه د انګلیسی لیکنه،مقاله،ګرامر،جمله او داسې نور موارد لولو نو ډیر وخت تحت لفظی یا میخانیکی معنا ترې اخلو چې همدلته مونږ تیروتنه کوو او غلطې کوو ، د تحت لفظي معنا د مفهوم سره د ځمکې او آسمان فرق دی ، خو ښنګه مفهوم ترې واخلو؟

په لاندو ټکو کې یې زده کوو:

۱: کله چې مونږکومه جمله یا مثال ګورو نو باید دا مثال لومړی په انګلیسی ولوستل شي، او بیا هغه لغاتونه چې په دا لیکنه کې شامل دي د هغوی معنا وباسو د هغې نه وروسته یو ځلې جمله تحت لفظي ترجمه کړو او کله چې دا کار خلاص شو نو جمله په ښه غور او دقت سره د مفهوم لپاره بیان کړو.

۲: کله چې تاسو یوه جمله یا مثال لولی نو په هغه کې کوم ګرامر چې استعمال شوی لومړی نښاني کړی او دهغې نه وروسته د همغه ګرامر په اساس جمله یا مثال ترجمه کړی.

لکه: لاندې جمله په نظر کې نیسو او بیا یې ترجمه کوو:

Ahmad is a Teacher

Subject　T.verb　Complement

مطلب دا چې لومړی باید په جمله کې ټول هغه موارد او ګرامر چې استعمال شوي او جمله پرې جوړه شوې ده په نښه کړو او بیا جمله د هغې پر اساس ترجمه کړو.

درنو لوستونکو مونږ د ګرامر په برخه کې تاسو ته یوازي دا ۵ لارې نه پیشنهاد کوو، که دا لارې تاسو ته موثرې نه وې نو تاسو د انټرنټ له لارې نورې لارې هم ځان ته پیدا کولی شی، دا یوازې هغه لارې دي چې لومړی ما شخصاً تجربه کړي او مفیدې واقع شوي او اوس مې تاسو ته وړاندې کړې.







# دویمه برخه

## ( خبرې څنګه وکړو؟)

مونږ د انګلیسی ګرامر دې لپاره زده کوو چې په انګلیسی ژبه روانې او ښې خبرې وکړو چې د ګرامر د زده کولو تجربې مونږ په لومړی برخه کې ولوستلې،خو بله خبره دا ده چې خبرې څنګه وکړو او د خبرو کولو او په خبرو پوهیدلو مهارت باندې څنګه ځانونه پوه کړو؟

په دا څپرکي کې یې په ۴ لارو کې لولو، نو دا څپرکي ښه په غور سره ولولی!

**لومړی لار:** څنګه کولی شو چې په انګلیسی ژبه کې روانې خبرې وکړو؟

دا هغه هیله او پوښتنه ده چې ټول د انګلیسی ژبې زده کوونکي یې لري.

خو راځی چې طریقه یې زده کړو، دې مهارت لپاره لاندې ټکي اړین دي:

۱: د لغاتونو د خزانې درلودل او د اړینو او عامو لغاتونو حفظ کول.

۲: پوره جرأت او په ځان باندې ډاډ لرل، مطلب دا چې مونږ نباید د خبرو کولو په وخت کې پر خپلو خبرو وشرمیږو او دا فطرتي تنبلي وګڼو.

۳: د ګرامر زده کړه او پر وخت ګټه اخیستنه.

۴: په هر ځای کې د ځان څخه پوښتنه کول او بیرته ځواب کول په انګلیسی ژبه.

۵: د محاورې پر مهارت باندې ډیر تمرکز او فوکس چې دا ډیر اړین او مهم ټکی دی.

۶: د استادانو څخه په انګلیسی ژبه د خبرو غوښتنه وکړی.



# انګلیش څنګه زده کړو؟

احمدضیاء /هادی/

**دویمه لار:** د خبرو په وخت کې د لغاتونو د بندښت سره مخامخ کیږم، مثلاً له ښوونکي څخه پوښتنه کوم چې په انګلیسی کې « حملې» ته څه وايي؟

بلکل، دا هغه پوښتنه ده چې ټول زده کوونکي یې د انګلیسی په ټولګي کې ځو ځله کوي ، خو څه وکړو چې بند نه شو؟

په لاندې ټکو کې یې طریقه لولو:

۱: د خبرو کولو په وخت کې د خپل ښوونکي څخه وغواړی چې کوم لغاتونو کې چې بند کیږی د تختې په مخ یې ولیکي چې هم تاسو او هم مو ټولګیوال ترې ګټه واخلي.

۲: کوم لغاتونو کې چې مشکل لری لکه: سیاسي،اجتماعي، میوې، اقتصادي ، تخنیکي او داسې نورو لغاتونو کې نو داسې کار وکړی چې همغه لغاتونه کوم چې تاسو مشکل پکې لری هغه لغاتونه ۵ ،۵ دانې د ورځې حفظ کړی او هر لغت ته یوه یا دوې جملې جوړې کړی.

۳: هغه لغاتونه چې غواړی تاسو یې حفظ کړی په خپلو خبرو کې ګټه ترې واخلی.

۴: کوښښ وکړی د یو لغت ځو نور معادل لغاتونه هم حفظ کړی.





## انګلیش څنګه زده کړو؟

احمدضیاء /هادی/

**دریمه لار:** کله چې خبرې کوم نو ډیر وخت د ګرامر استعمال راڅخه غلط کیږي؟

مهم پوښتنه او ژبې بنیادي پوښتنه راځی چې حل يې کړو، په لاندو مرحلو کې راسره لاړل شی:

۱: ګرانه ! کوښښ وکړه چې لومړی دې ګرامر پوخ کړې او بیا د ګرامر مفهوم زده کړې، چې دا ګرامر او عنوان د کومې زمانې لپاره استعمال کیږي.

۲: د انګلیسی په خبر اترو کې تر ټولو مهم رول زمانې او د هغه استعمال لري چې مونږ باید د انګلیسی ژبې ۱۲ زمانې په پوره ډول سره زده کړو.

۳: کوم ګرامر چې ډیر در څخه غلط کیږي، نو کوښښ وکړه چې هغې عنوان لپاره د ورځې تر ۳۰ یا ۸۰ مثالونه جوړ کړې.

۴: د خبرو کولو په وخت کې ډيرې تيزې خبرې مه کوی، بلکه نرمې خبرې وکړی تر څو خبرې مو هم مفهومې وي او هم غلطی پکې کمې وي.






# دریمه برخه

## ( لغات څنګه حفظ کړو؟)

د لغاتو زیرمه چې هر څومره ډیره وي، نو همدومره به ستا مشکل او بندښت به په ژبه کې کم وي او خبرې به دې روانې وي.

خو لغات څنګه حفظ کړو؟

دغه برخه کې یې په ۲ لارو کې د مطالعې لاندې نیسو، نو راځئ چې پیل یې کړو.

**لومړی لار:** د لغاتونو حفظ کول په ۳ ډوله دي:

۱: میخانیکي: چې دا برخه هغه لغات دي چې د ۱ څخه تر ۴ ورځو پورې زمونږ په حافظه کې وي، مطلب دا چې ګټه نه لري.

۲: متوسط: دا هغه برخه لغات دي چې تر ۱ کال پورې هم زمونږ په حافظه کې وي او دا موقتي ګټه لري، یعنې د میخانیکي حفظ پر نسبت ښه برخه ده.

۳: بنیادي او دایمي: دا هغه برخه لغات دي چې زمونږ په حافظه کې ۱۰۰٪ حفظ شي ، خو دې برخې طریقه څه ده؟

حل: تکرار،تکرار،تکرار او په جملو کې تر ډیرې مودې پورې کارول.

**دویمه لار:** کله چې مونږ لغات حفظ کوو، نو ډیر وخت مو سر ترې درد کوي؟

سمه ده، دا جدي مشکل ندی، خو راځی چې په لاندې ټکو کې یې زده کړو:

۱: معمولاً مونږ باید د درس ویلو په وخت کې د ځان سره ۱ بوتل اوبه ولرو.

۲: زمونږ د درس ویلو محیط باید آرام وي.

۳: کوښښ وکړی،کوم لغات چې غواړی حفظ کړی هغه ۳ یا ۸ یا د هغې څخه ډیر ځان سره په خپلو کتابچو یا ورقه کې ولیکۍ.

۴: د ورځې ۵ یا ۶ لغات حفظ کړی.


۵: معمولاً لغات له ورځپاڼو او کتابو څخه چې ژبه یې انګریزي وي وباسی.




# د انګلیسی ژبې ۳ مهم کتابونه

لاندې کتابونه تاسو کولی شی د خوست کتابتون څخه ترلاسه کړی.






# خپل نظریات او انتقادات زمونږ سره شریک کړی